# د یوه مصلح غازي یاد

## مې ۹-۶-۲۰۰۶

غوښتل مې ستاسو دغې درنې غونډې ته د نومیالي مصلح او غازي د چکنور ملا صاحب په اړه یوه اوږده لیکنه تهیه کړم، خو په دغه کار کې د یوې سپکې ناروغۍ له امله چې تر اوسه هم راسره ده، پاتې راغلم.

د چکنور ملا صاحب چې اصلي نوم یې امیرمحمد او د افغانستان د ننګرهار ولایت اوسېدونکی و، که څه هم یوه نیمه پېړۍ دمخه پیدا شوی و، تر اوسه هم په خلکو کې په عزت سره یادېږي او د مومند درې د چکنور کلي چې دی پکې زیږېدلی و، د ده له برکته په ټول ننګرهار کې مشهور شوی. ده ځان "فقیر چکنور" ښوده. دی سره له دې چې عالم، غازي او اجتماعي مصلح تېر شوی دی، حان یې خپل کلي ته منسوبوه چې مومند پکې اباد وو.

په مومندو کې نومیالي کسان ډېر تېر شوي دي. له پنځلسمې پېړۍ نه وروسته چې مومندان له خپل اصلي ټاټوبي یانې د کندهار له مرغه نومي ځای نه اول غزني ته او بیا خپلې اوسنۍ سیمې ته راغلل، په دوی کې د سر دغسې کسان تېر شوي چې نه یوازې یې په مومندو کې بلکې په ختیځو پښتنو کې هم د نفوذ او اعتبار خاوندان وو. دوی ځکه دغسې غټ اعتبار ګټلی و چې نه یوازې یې د خپل ځانګړي قوم لپاره، بلکې د ټولو پښتنو د داعیې لپاره هلې ځلې کولې.

اېمل خان مومند د روښانیانو د تحریک په اخر کې د مغولو د

تسلط په برابر کې د پښتنو د خپلواکۍ بېرغ د کلونو کلونو لپاره رپانده ساتلی و. سعادت خان مور چې خپل مومند چې څلوېښت کاله د مومندو خان و، په نولسمې پېړۍ کې په انګرېزانو بې شماره يرغلونه کړي وو. غازي محمد ايوب خان چې د خپلواکۍ په لار کې يې په مېوند کې ابدي وياړ ګټلی، ممکن له خپل دغه نيکه نه د غېرت او ننګ الهام اخستی وي.

په ۱۸۹۳ کې په افغانستان باندې د ډيورنډ د موافقه ليک له تپل کېدو نه وروسته په ختيځو پښتنو کې د مبارزو هڅې لا ټينګې شوې او مومندانو په دغو مبارزو کې غټه ونډه لرله. نوميالي ليکوال ميراجان سيال مومند په دې اړه يوه ځانګړي کتابګوټی لري، په نامه "د مومندو غزاګانې" د دغه لړ لومړنۍ هڅه په ۱۸۹۷ کې د ټولو ختيځو پښتنو ستر پاڅون و چې په هغه کې ملا نجم الدين اخوند چې د هډې صاحب ملا باندې ياديده، غټه برخه لرله. د چکنور ملا صاحب چې د هډې ملاصاحب شاګرد و، له هغه وروسته لکه په وزيرستان کې ميرزاعلي خان چې د ايپي فقير باندې يادېده د غزا جنډه رپانده وساتله او غزاګانې يې له هغه وخت نه د پاچا امان الله په واکمنۍ کې د خپلواکۍ ګټلو تر جنګه پورې روانې وې چې تفصيل يې ميراجان سيال پخپل کتابګوټي کې ورکړې په نامه د "نوميالي غازي چکنور ملا صاحب" د چکنور ملا صاحب يوازې غازی نه و، اجتماعي مصلح هم و. د ده د اصلاحي کارونو اهميت په دې کې دی چې په مومندو کې لکه په نورو ختيځو پښتنو کې چې حکومت ضعيف و، اجتماعي رواجونه قوي وو، يوازې هغو کسانو د هغو د اصلاح لپاره څه کولی شول چې د علم، تقوا، ښه سلوک په لرلو يا يې د خپل لوړ شخصيت په سبب په خلکو کې معنوي نفوذ ولري. د چکنور ملا صاحب په خلکو کې دغسې نفوذ لاره، لکه چې ګل پاچا الفت وايي چکنور ملا صاحب "په ازادو سرحدونو کې، په

ننګرهار او کابل کې ډېر اراد تمندان لرل او ډېر وران ويجاړ کارونه په ده سمېدل، ډېرې بدۍ او دښمنۍ ده اوارولې شوې، ډېر خلک يې د غزا لپاره له ځان سره روانولي شول او د ډېرو خلکو لوڼې او خويندې يې بې ولوره په ډېر لږ مهر خپلو مېړنو ته ودولې شوې"

له همدې امله و چې لکه بيا هم الفت وايي "هغه کار چې ده د ازاد سرحد په مومندو او شنوارو کې کولی شو، اوس يې يو رياست قبايل په ډېر پېسو نه شي کولی. هغه غزاګانې چې ده په تش لاس د خلکو د جذباتو په راوېښولو کوله، به عصري فرقه يې په توپونو او ماشيندارو نه شي کولی" او "هغه لويې دښمنې، جګړې او دعوې به چې ده په يو خو خبرو فېصله کولې يوه ستره قضايي ټولنه يې هغسې نه شي حل کولی"

د جوماتونو ودانول هم د چکنور ملا صاحب مهم ميراث ګڼل کېږي. د ده په هدايت هم په افغانستان او هم په ازادو سرحدونو کې تر شلو نه ډېر جوماتونه ودان شوي دي. دغه جوماتونه يوازې د عبادت کولو لپاره نه وو، په ازادو سرحدونو کې له دغو جوماتونو نه د اجتماعي او سياسي هدفونو لپاره هم استفاده کېدله، لکه د حضرت محمد(ص) په وخت کې چې په مدينه کې د قبيلو مشران د اسلام منلو لپاره بلل کېدل په جوماتونو کې ورسره مقاولې او غونډې کېدلې. ميراجان سيال هم وايي چې په ازادو سرحدونو کې په جوماتونو کې غونډې او جرګې کېدلې او په ازادو مومندو کې د مدرسې جومات "د ديني او مذهبي منظور تر څنګه سياسي او نظامي اهميت درلود او پرنګيانو ته په ورځرمه پوله يې د يوې چونۍ په توګه ارزښت درلود"

د همدغو ډول خدمتونو او لوړ شخصيت له امله ده چې د چکنور ملا صاحب نوم په عزت سره اخيستل کېږي او د هغه له برکته د چکنور کلی هم مشهور شوی دی